# د اخلاقیاتو اسلامي فلسفه او د عبدالقادر خان خټک شاعري

# Islamic philosophy of morality and the poetry Abdul Qadir Khan Khattak

عبدالحکیم شاه*
ډاکټر نور محمد دانش بیټنی**
ډاکټر فیض الله خان•

## Abstract:

Abdul Qadir Khan Khattak was born in the family which was famous for pen and sword in 1063 hijri which inherit this quality of pen and sword from their famous warrior poet father Khushal khan Khattak. At the age of 23 he showed great symbols of bravery and was applauded greatly by his father. In the field of literature he was awarded by his contemporaries. In this field "Hadeeqa -e- Khattak is his famous written work. He was full command on Persian and Arabic. He used Arabic and Persian in his poetry in such way which seems to be the words of Pashto. Due to this quality he is unique among his contemporaries. His verse has the quality of continuity and free of complex thought. His poetry is decorated with figure of speech in which Allusion is to be found frequently in his poetry. In this article allusion quality of Abdul Qadir Khan Khattak has been highlighted and which shows that he was well versed in the knowledge of Quran, Tafseer, Hadith. The study of his verses reveal that he was wel versed in Islamic teaching.

اسلام په ټوله نړۍ کښې د ټولو نه لوی اوچت او غوره مذهب دی. د ژوند ټوله فلسفه په کښې رانغښتې شوې ده. د ژوند هر قسمه مسائل حل کولو وړیا او بشپړه قوت لري. د کړۀ او نۀ کړۀ (او امر او نواهي) په بنیاد عمل کولو او د ځان ژغورنې درس ورکوي. د عمل کولو او د ځان ژغورنې په دې درس کښې اخلاقیات یوه غټه موضوع ده.

* Ph.D Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar
** Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawar
• Chairperson, Department of Pashto, UoB, Quetta

اخلاق دخُلق جمع ده. خُلق په معنٰی د خو، خوبی، عادت او خصلت راځي. ښو اخلاقو اخلاقِ حسنه وائي او بد اخلاقو ته اخلاقِ رذيله وائي، خو په څلور کُنجه دنيا کښې به داسې مذهب نۀ وي چې د ښو اخلاقو ستائينه او د بدو اخلاقو غندنه ئې نۀ وي کړې يا ئې نۀ کوي.

د اسلام د نازلېدو او دحضرت محمدصلی الله علیه وسلم دراتګ نه پس الله تعالٰی په خپل کلام کښې " وَاِنَّکَ خُلُقٍ عَظِیْم "(1) سره موصوف شوي انسان د اطاعت په لړ کښې فرمائي: لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰہِ اُسْوَۃٌ حَسَنَۃٌ"(2).

ترجمه: په تحقيق سره تاسو دپاره د حضور صلی الله علیه وسلم ژوند بهترينه نمونه ده. دغه موصوف شوی انسان سرور کائنات حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ښو اخلاقو په لړ کښې فرمائي: اِنَّ مِنْ خِیَارِ کُمْ اَحْسَنَکُمْ اَخْلَاقًا"(3).

ترجمه: بې شکه په تاسو کښې بهتر دی هغه کس چې په اخلاقو سره ښائسته وي.

د اخلاقو دغه حکمونه او فضيلتونه د حضور صلی الله علیه وسلم د زمانې او دهغې نه روستو ټولو انسانانو ته دي. بايد چې مسلمانان ددې حکمونو او فضيلتونو لاندې ژوند تېر کړي. يو بل ته ددې درس ورکړي. دنړۍ په مسلمانانو کښې پښتانۀ هم مسلمانان دي. په دې مسلمانانو کښې داسې کسان تېر شوي دي او شته چې وخت په وخت ئې داخلاقو د اسلامي فلسفې په اتباع کښې د ښو اخلاقو خپلولو او د بدو اخلاقو نه د ځان ژغورنې درس ورکړی دی او اوس ئې هم ورکوي. عبدالقادر خان خټک ددې قام يو وګړی وو. چې د شعر په ژبه ئې اخلاقي فلسفه څرګنده کړې ده.

عبدالقادر خان خټک په خپل کلام کښې د زرپرستۍ غندنه، زورګيرۍ غندنه، قناعت، حسد او داسې نورو اخلاقياتو ابلاغ کړی دی. په دې ليک کښې ددۀ د اخلاقياتو اسلامي فلسفې ته پام کوو.

**۱: د زرپرستۍ غندنه**: د زرو يعني مال او دولت بندګۍ کولوته زرپرستي وائي، مطلب دا چې مال و دولت ته دومره مقام ورکول او زړۀ ورپورې تړل چې د الله تعالٰی بندګي د بنيادم نه پاتې شي او بنده د مال غلام جوړ شي. ددې متعلق الله تعالٰی فرمائي: یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِکُمْ اَمْوَالُکُمْ وَ اولَادُکُمْ عَنْ ذِکْرِ اللهِ"(4).

ترجمه: اې ايمان والو! ستاسو مالونه او اولاد چې تاسو دالله تعالٰی د ذکر نه غافله نۀ کړي. په دې حقله حضور صلی الله علیه وسلم فرمائي: " حُبُّ الدُّنْیَا رَاسُ کُلِّ خَطِیْئَۃٍ(5).

ترجمه: د دنيا مينه د ټولو خطايانو سر دی.

ددې ايتونو او حديثونو په حقله مفسرين او محدثين فرمائي چې ددې دا مطلب نۀ دي ګڼل پکار چې ګڼي مال فی نفسه بددی. بد والی هغه وخت دی چې ددې مينه زړۀ ته کوزه شي که په زړۀ

کښې د الله تعالیٰ خوف وي نو په مال او مالدارۍ کښې هېڅ بد نۀ شته. عبدالقادر خان خټک ئې غندنه داسې کوي.

ځوک چې مینه په دنیا لا په عقبیٰ کا
نۀ پوهېږي سراسر واړه خطا کا(6)

**۲ : زور ګیري**: ظلم،جبر ته زور ګیري وئیلي شي. د ظلم تعریف داسې شوی دی. "وضع الشی فی غیر محله" د ظلم باره کښې الله تعالیٰ فرمائي: " اَلاَ لَعْنَۃُ اللهِ عَلَی الظّٰلِمِیْنَ "(7).

ترجمه: خبردار ! الله تعالیٰ په ظالمانو لعنت کړی دی.

د ظالم او د مظلوم په حقله حضور صلی الله علیه وسلم فرمائي: " اِتَّقِ دَعْوَۃَ المَظْلُوْمِ فَاِنَّهَا لَیْسَ بَیْنَهَا وَ بَیْنَ اللهِ حِجَابٌ"(8).

ترجمه: د مظلوم د بد دعا نه ځانونه وژغورئ. ځکه چې د مظلوم بد دعا او د الله تعالیٰ تر مېنځه پرده نشته.

عبدالقادر خان د ظلم غندنه داسې کوي:

د چا مۀ اخله ازار عبدالقادره
تر دا نۀ شته دی بد کار عبدالقادره
هر چې وېره د مظلوم له آهه نۀ کا
عاقبت شي هغه خوار عبدالقادره

چې لاس نۀ نیسي له وړاندې وروستو
په ظالم شي ګرفتار عبدالقادره"(9)

ظلم هسې هم بد دی. خو که دغه ظلم یتیمانو سره ځوک کوي. نو په دې حقله الله تعالیٰ فرمائي: " اِنَّ الَّذِیْنَ یَاْ کُلُوْ ن اَمْوَالَ الْیَتَمٰی ظُلْمًا اِنَّمَا یَاْ کُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا"(10).

ترجمه: بې شکه هغه کسان چې خوري مالونه د یتیمانو په ظلم سره خبره دا ده بله نۀ ده چې اچوي دوئي په ګېډو خپلو کښې اور.

عبدالقادر خان وائي:

ځوک چې خوري په ظلم مال د یتیمانو
ډکوي ګېډه په نار عبدالقادره"(11)

**۳ قناعت**: د خدائی پاک په ورکړې صبر کول او شکر ادا کول قناعت بللی شي. قناعت صفت دی چې انسان ته عظمت وربخښي. په دې حقله حضور صلی الله علیه وسلم فرمائي: " مَا قَلَّ وَ كَفٰى خَيْر مِّمَّا كَثُرَ وَاَلْهٰى"(12).

مطلب دا چې کوم مال کم وي او کفایت کوونکی وي. د هغې مال نه بهتر دی چې ډېر وي او غافله کوونکی وي.

محدثین فرمائي چې په دې حدیث کښې د مال حرص مذمت شوی دی. ځکه چې د مال حرص د انسان په طبیعت کښې موجود دی. که چرته قابو ئې نۀ کړي نو شپه ورځ په مال پسې لګیا وي. داسې انسان ته له خبرتیا ورکولی شي چې انسان دې په لږ څۀ قناعت کوي.

عبدالقادر خان د قناعت فلسفه داسې بیانوي:

چې قانع په خشک و تر شي
هغه شاه د بحر و بر دی(13)

خزانه د قناعت راته حاصل ده
تر شاهانو لا په کبر په دماغ یو(14)

ذل من طمع عز من قنع
ځکه قانع شده اولالباب(15)

**۴ حسد**: د کینې او غصې یو جُز دی. حسد سرکشي پېدا کوي او سرکشي فتنه پېدا کوي. د حسد ډېر مذمت شوی دی. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائي: "اِيَّاكُمْ وَالحَسَدُ فَاِنَّ الحَسَدَ يَاْكُلُ الحَسَنَاتِ كَمَا تَاْكُلُ النَّارُ الخطبَ"(16).

مطلب دا چې حسد نه بچ شئ. حسد نیکۍ داسې سوځوي لکه اور چې لرګي سوځوي.

عبدالقادر خان د حسد مذمت داسې بیانوي.

خوښ په خپله بخره شه حسد له هېچا مۀ کړه
هر چا ته رسېږي خپله بخره خپل قسمت
سوځي د حسد په اور وجودد حاسدانو
خوښ ګرځي محسود له دغه اوره فراغت"(17)

نۀ صحت مومي نۀ مري هسې تاوېږي
چې په زړۀ دي د حسد منګور چيچلي"(18)

دحرص او قناعت دواړو په لړ کښې په يو شعر کښې وائي:

موړ به هر ګز نۀ شي د حرص قحطۍ وهلی
هېڅ کله به وږی نۀ شي موړ د قناعت"(19)

**۵: د نفس پرستۍ غندنه:** نفس د انسان دننه يو قوت دی چې د انسان نه د خېر يا د شر خواهش کوي، د نفس خېر منونکي نمانځنه او د شر منونکي د نفس پرستۍ غندنه شوې ده. د پاک او ناپاک نفسونو په حقله الله تعالیٰ فرمائي: " قَدْ اَفلَحَ مَنْ زَکّٰهَا وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا"(20).

ترجمه: په تحقيق سره کامياب شو هغه کس چا چې پاک کړو خپل نفس او نامراده شو هغه کس چا چې سخا کړو خپل نفس.

نفس پرستي يو داسې رنځ دی چې د ښو او بدو تر مېنځه فرق ختموي. ناروا سړي ته روا کړي. نفس پرست همېشه خوار وي. په دې حقله حضور صلی الله عليه وسلم فرمائي:

" اَلْکَيِّسُ مَنْ رَانَ نَفْسَہ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَالْمَوْتِ وَالعَاجِزُ مَن اتَّبَعَ نَفْسَہ هَوَاهَا وَ تَمَنّٰی عَلَی اللهِ"(21).

مطلب دا چې عقل مند دی هغه کس چا چې نفس تابع کړی وي او د مرګ نه پس ژوند دپاره تياري وکړي. او کم عقل دی هغه کس څوک چې د خپلو خواهشاتو ( نفس ) تابع وي. او د الله تعالیٰ نه امېد ساتي.

محدثين فرمائي چې ددې حديث نه دا مراد دی چې عقل مند دی هغه څوک، څوک چې په خپل ژوند کښې د خپل قول و فعل محاسبه کوي. که چرته ښک عملونه ئې ډېر وي نو شکر دې اوباسي او که چرته بد اعمال ئې زيات وي نو توبه ګار دې شي.

عبدالقادر خان په دې حقله داسې وائي:

عبادت د حق په صدق په اخلاص کا
تل له خپله نفسَ جنګ کوي کار زار کا(22)

نفساني کارونه کفر ورښکارېږي
چې ئې بخره له ازله روحاني ده(23)

پاس د زړۀ په اس قدم پاس د نفس کړه
پاس په نخسته کښېنه شاهي ده خاقاني ده(24)

**۶ د صحبت اثر**: د تجربې نه ثابته ده چې بنده باندې خامخا د مجلسیانو اثر پرېوځي. که چرته د سړي ملګري نېک وي. نو دغه سړی به نېک وي. که یو بنده د بدو خلقو سره کښېني پاڅي. نو دغه بنده به بد اخلاقه وي. په دې حقله حضور صلی الله علیه وسلم فرمائي: " وَمَثَلُ جَلِيْسِ الصَّالِحِ كَمِثْلِ صَاحِبِ الْمِسْکِ اِنْ لَّمْ يُصِبْکَ مِنْهُ شِئٔ اَصَابَکَ مِنْ رِيْحِهِ وَمَثَلُ جَلِيْسِ السُّوْءِ كَمَثَل صَاحِبِ الْكِيْرِ اِنْ لَّمْ يُصِبْکَ مَنْ سُوَادِهِ اَصَابَکَ مِنْ دُخَانِهِ"(25).

مطلب دا چې د نېک مجلسي مثال د صاحب مشک (عطار) دی. که هغۀ نه تاته مشک حاصل نۀ شي د هغې خوشبو به در ورسي. او د بد مجلسي مثال د آهنګر دی. که هغه تا ونۀ سوځوي په لوګي خو به دې تور کړي.

عبدالقادر خان خټک د صحبت اثر فلسفه داسې بیانوي:

ناست په اور کښې ښۀ ئې نۀ د بدو په مجلس کښې
اور دې صورت سوځي، سوځي دین دی بدخصلت"(26)

د هغۀ صحبت لکه دارو دی
چې پېدا در کښې خویونه انساني کا"(27)

د دانا صحبت، صحبت د رنځور زړۀ دی
د ناپوهـ صحت عذاب ګڼه الیم"(28)
ناست ولاړ له هغه ځلمیانو ستا وي
چې په تا کښې ئې ښکاره د ښو اثار شي"(29)

# حوالې

(1) القرآن الکريم، سورة الاحزاب، آيت ۲۱
(2) القرآن الکريم، سورة المنافقون، آيت ۹
(3) خطيب تبريزي، ولي الدين ابي عبدالله، مشکاة المصابيح، جلد نمبر ۳/ ۴، دارالکتب العلميه بېروت لبنان کال ۲۰۰۳ء، حديث نمبر ۵۲۱۳، مخ ۲۵۰
(4) القرآن الکريم، پاره ۲۸.
(5) بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري.
(6) خټک، عبدالقادر خان، حديقهٔ خټک، مدون و مرتب، سيد انوارالحق، يونيورستي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور، کال نهٔ لري، مخ ۴۳
(7) القرآن الکريم، سورة الهود ، آيت ۱۸
(8) بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، حديث نمبر ۲۴۴۷، مخ ۲۳۱
(9) خټک، عبدالقادر خان، حديقه خټک، مخ ۳۲
(10) القرآن الکريم، سورة النساء، آيت ۱۰
(11) دارمنګي، عبدالحق، مولانا ، تفسير دارمنګي، ناشران زيب آرټ پبلشرز محله جنګي پېښور، مخ ۹۲
(12) خټک، عبدالقادر خان، حديقه خټک، مخ ۳۲
(13) خطيب تبريزي، ولي الدين ابي عبدالله، مشکاة المصابيح، جلد نمبر ۳ / ۴، مخ ۲۵۱
(14) خټک، عبدالقادر خان، حديقه خټک، مخ ۱۷۲
(15) همدغه اثر، مخ ۱۱۰
(16) همدغه اثر، مخ ۵۳
(17) ابو داؤد ، ابن الاشعث سجستاني، سننِ ابي داؤد ، جلد نمبر ۲ ، جز ۴، داراحياء التراث العربي، بېروت لبنان، کال نهٔ لري، حديث نمبر ۴۹۰۳ ، مخ ۲۷۲
(18) همدغه اثر، مخ ۱۲۳
(19) همدغه اثر، مخ ۵۷
(20) القرآن الکريم، سورة الشمس، آيتونه ۹، ۱۰
(21) ترمذي، عيسىٰ، سنن، دارالمعرفه بېروت لبنان، ۲۰۰۲ء، حديث نمبر ۲۴۵۹ و مخ ۹۷۴
(22) خټک، عبدالقادر خان، حديقه خټک، مخ ۴۴
(23) همدغه اثر، مخ ۲۵۰

(24) همدغه اثر، مخ **۲۵۱**

(25) ابي داؤد، ابن الاشعث سجستاني، جلد ۲، جز ۴، حديث نمبر **۴۸۲۹**، مخ **۲۵۹**

(26) ختک، عبدالقادر خان، حديقه ختک، مخ **۵۷**

(27) همدغه اثر، مخ **۴۹**

(28) همدغه اثر، مخ **۲۴۴**

(29) همدغه اثر، مخ ۲۸۵